مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۸۹** (از ۲۶ میزان الی ۳ عقرب ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**د افغانستان او ترکيې د اړیکو مخينه او يو نوی پړاو**

- د افغان-ترک اړيکو تاريخي شالید ........ ۳
- د معاصر تاريخ اړيکې ........ ۴
- له ۲۰۰۱ تر ۲۰۱۴ پورې ........ ۵
- د ترکيې-افغانستان اړيکو راتلونکی ........ ۶

**نخستین سفر یک رئیس جمهور ترکیه به افغانستان پس از ۵٦ سال**

- اهمیت سفر اردوغان به کابل ........ ۸
- صلح و اقتصاد ........ ۹

**افغانستان ته د سرتاج عزيز سفر او د اړیکو رغولو هڅې**

- د پاکستان اندېښنې ........ ۱۲
- په افغانستان کې د هند او پاکستان روانه لوبه ........ ۱۲

## مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې، افغانستان ته د ترکیې د ولسمشر رجب طیب اردوغان د سفر پر اهمیت او اغېزو، د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو لرغونتیا ته په پام سره پر راتلونکو اړیکو او همدا راز له دغه سفر یوه ورځ وروسته د پاکستان د ملي امنیت او بهرنیو چارو د سلاکار سرتاج عزیز پر سفر د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل د بورډ شننې لولئ.

افغانستان ته له ٥٦ کلونو وروسته د ترکي ولسمشر سفر، په اوسني وخت کې خورا مهم بلل کېږي. له یوې خوا په افغانستان کې د نوي حکومت له جوړېدو سره د سولې، ثبات او اقتصادي پرمختګ په اړه هیلې راټوکېدلې دي او له بلې خوا ترکیه په نړۍ کې ترټولو ځواکمن اسلامي هېواد دی او له افغانستان سره لرغونې اړیکې لري.

په دغه سفر کې د ترکیې او افغانستان ترمنځ د ستراتېژیک تړون لاسلیک او په افغانستان کې په بېلابېلو اړخونو کې د ترکیې رول ته افغانان هیله من دي. ترکیه د یوه داسې هېواد په توګه چې له وسله والو طالبانو سره ښې اړیکې لري، په افغانستان کې د سولې او ثبات په تړاو ښه رول لوبولی شي. همدا راز له پاکستان سره د ترکیې ستراتېژیکې اړیکې هم، ښایي د افغانستان او پاکستان ترمنځ د روانو ستونزو په ختمولو کې اغېزناکې ثابتې شي.

د دې ترڅنګ د اردوغان له سفر یوازې یوه ورځ وروسته، د پاکستان د ملي امنیت سلاکار سرتاج عزیز هم کابل ته راغی او ولسمشر غني ته د پاکستان د سفر د بلنې ترڅنګ، د دواړو هېوادونو د اړیکو په رغولو خبرې وکړې. داسې برېښي، چې د افغانستان او پاکستان اړیکې د ترکیې په منځګړتوب مخ په ښه کېدو روانې دي. دلته پر همدغو موضوعاتو د شننو تفصیل لولئ:

# د افغانستان او ترکيې د اړيکو مخينه او يو نوی پړاو



ترکيه د اوسنۍ نړۍ د مهمو هېوادونو له ډلې او د شلو اقتصادي ځواکمنو هېوادونو په کتار کې راځي. دا هېواد د خپل ستراتېژيک ارزښت، تاريخ او کلتور له مخې په سيمه کې «ستراتېژيک عمق» لري.

بلخوا افغانستان د آسيا لويې وچې په زړه کې پروت لرغونی هېواد دی، چې د تمدنونو د ټاټوبي په نوم هم يادېږي. له همدې ځايه آريايي نسل د نړۍ نورو سيمو ته خپور شوی او په اوسنۍ نړۍ کې هم افغانستان د خپل ستراتېژيک موقعيت او د چين (په اقتصادي ډګر کې دويم هېواد) او منځنۍ اسيا له هېوادونو سره د ګاونډېتوب او له ځينې نورو هېوادونو سره د ښو اړيکو له کبله، خورا زيات اهميت لري.

دواړو هېوادونو له پخوا راهيسې له يو بل سره ګټورې اړيکې درلودلې دي؛ خو په افغانستان کې د نوي حکومت له جوړېدو څو ورځې وروسته، د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان کابل ته په خپل سفرسره، دا اړيکې يوه نوي پړاو ته داخلې کړې.

### د افغان-ترک اړيکو تاريخي شاليد

افغانستان له ترکيې سره لرغونې اړيکې درلودلې دي؛ د تاريخي څېړنو له مخې، تُرک قوم له آريانا (د آمو د سيند له غاړو) څخه اوسنۍ ترکيې ته ولاړ، هلته مېشت شو او د تُرکانو ترکيه يې جوړه کړه. که د عثماني خلافت د بنسټګر عثمان شجره راوسپړو، نو جوته به شي چې دی هم له منځنۍ آسيا څخه ترکيې ته ولاړ او هلته يې د عثماني خلافت بنسټ کېښود. د غزنويانو دورې د لومړي پاچا سلطان محمود غزنوي پلار ترک و او همدا راز بل ستر افغان شخصيت مولانا بلخي هم، چې په بلخ کې زېږېدلی و، د اوسنۍ ترکيې (هغه مهال روم) مرکز استانبول ته ولاړ او په دواړو تخلصونو

(رومي او بلخي) سره ښه وځليد. سيد جمال الدين افغان هم د خليفه عبدالحميد ثاني د خلافت ژغورلو لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې او يو مهال يې اجازه ترې وغوښته، چې په منځنی اسيا کې د ده پر پلوی د ملاتړ څپې راپورته کړي. همدارنګه د محمود طرزي په څېر نورو افغان روڼ اندو هم په عثماني خلافت کې وخت تېر کړی و او له دوی څخه اغيزمن وو.

د دغو دواړو هېوادونو د کلتوري اړيکو د روښانه کولو لپاره يوازې د مولانا رومي يادونه هم بسنه کوي؛ خو په ټوليز ډول دواړو هېوادونو، د تاريخ په اږدو کې له يو بل سره ژورې اړيکې پاللې دي. له شاه اشرفه رانيولې تر احمد شاه بابا او امير شير علي خان پورې افغانستان له ترکيې سره اړيکې پاللې دي.

## د معاصر تاريخ اړيکې

په معاصر تاريخ کې هم، ترکيې افغانستان ته د افغان اردو د روزنې لپاره خپل نظامي قوماندانان راولېږل او ترکيه له شوروي وروسته دويم هېواد و، چې افغانستان يې پر رسميت وپېژانده او افغانستان هم بيا هغه دويم هېواد و، چې د اتاترک هېواد يې په رسميت وپېژاند. غازي امان الله خان لومړی افغان مشر و، چې ترکيې ته يې سفر وکړ او هغه مهال د افغانستان لومړی سفارت هم په ترکيه کې پرانيستل شو. همدې موضوع ته د ترکيې د دفاع وزير (عصمت يلماز) په پارلمان کې د اپوزيسيون د نيوکې په ځواب کې اشاره وکړه او ويې ويل: "افغانستان له لومړنيو هېوادونو څخه و، چې ترکيه يې په رسميت وپيژندله او لومړنی هېواد و، چې دلته يې سفارت پرانېست. مونږ له دوی سره د اتاترک پر مهال يو دفاعي ائتلاف هم درلود، نو ځکه به ترکيه له افغانستان سره د دوی د ستونزو په ورځو کې مرسته کوي او په افغانستان کې زمونږ شتون د ناټو له شتون سره هېڅ اړيکې نلري."[1]

له همدې امله، په ۲۰۱۲ کال کې اردوغان په اسلام آباد کې د يوه سفر پر مهال وويل: "ترکيه به په افغانستان کې د نورو بهرنيانو له وتلو وروسته هم پاتې شي. موږ به تر هغه پورې په افغانستان کې وو، کله چې افغانان له موږ منته وکړي او موږ ته له دغه هېواد څخه د تګ اجازه راکړي."[2]

[1] Simsek Ayhan, 'Turkey Pledges to Support Afghanistan beyond 2014', SES Turkiye, 12 July 2011.

[2] 'We won't leave Afghanistan until our Brothers Tells us to', Star Gazette, 23 May 2012, <http://www.stargazete.com/politika/kardeslerimiz-istemeden-afghanistandan-gitmeyiz/haber-583742>

کله چې عثماني خلافت د عربانو له بغاوت سره مخ و؛ نو په افغانستان کې د محمود طرزي تر څارنې لاندې خپرېدونکې اخبار (سراج الاخبار) د عثماني خلافت په پلوۍ تبلیغات کول. خو افغانانو یوازې پر دې هم بسنه ونه کړه او له ترکانو سره د هغوی په تاریخي جګړه کې هم په څنګ کې ودرېدل.

ترکیې د افغان جهاد په پېر کې د افغانستان ملاتړ وکړ او وروسته د افغانستان په کورنیو جګړو کې هم، د چین ترڅنګ بې طرفه پاتې شوه چې له امله یز په افغانستان کې د دغو هېوادونو په تړاو هیلې موجودې دي.

## له ۲۰۰۱ تر ۲۰۱۴ پورې

ترکیې د ناټو په چوکاټ کې افغانستان ته خپل سرتیري راولېږل، خو له پېله یې روښانه کړې وه چې د دوی سرتېري به په نظامي عملیاتو کې ګډون نه کوي. ترکیې په لومړیو وختونو کې شاوخوا ۳۰۰ سرتېري افغانستان ته راولېږل، چې اوس یې شمېر له زرو سرتېرو اوړي؛ خو تر اوسه هم د ترکي سرتېرو له خوا، یو افغان هم نه دی وژل شوی.

ترکیې تر اوسه کابو ۱۲۵۰۰ تنه افغان سرتېري په افغانستان کې روزلي او کابو ۳۳۰۰ نور یې په ترکیه کې روزلي او همدا راز به تر راروانې یوې لسیزې پورې، شاوخوا ۱۵۰۰۰ نور افغان سرتېري هم وروزي.[3]

د ۲۰۱۱ کال د مارچ په لومړۍ نېټه، د افغانستان، ترکیې، جاپان او ناټو ترمنځ د افغان ځواکونو د روزلو په تړاو یو تړون لاسلیک شو، چې له مخې به یې افغان پوځیان د ترکیې په یوه اکاډمۍ کې روزل کېږي. د تړون له مخې له افغانستان څخه لومړي ۵۰۰ افغان پوځیان، ترکیې ته د ۲۰۱۱ کال په جولای میاشت کې ولېږدول شول او له شپږ میاشتنۍ روزنې وروسته، د ۲۰۱۲ کال په فبرورۍ میاشت کې فارغ شول او دا لړۍ لاهم روانه ده.

همدا راز د افغانستان د کلنۍ احصائیې له مخې تر ۲۰۱۲ کال پورې دواړو هېوادونو له یو بل سره تر ۲۹۰ میلیون ډالرو پورې مجموعي تجارت درلودلی. د یوې څېړنې له مخې د ترکیې ساختماني شرکتونو تر ۲۰۱۰ کال پورې په افغانستان کې تقریباً تر ۳ ملیارده ډالرو پورې قراردادونه کړي وو[4] او دغه راز د ترکیې دولت خپله هم تر ۴۰۰ ملیون ډالرو پورې لسګونه پروژې بشپړې کړې دي.

---

[3] Karen Kaya, Turkey's Role in Afghanistan and Afghan Stabilization, MILITARY REVIEW, July-August 2013. < http://usacac.army.mil/CAC2/MilitaryReview/Archives/English/MilitaryReview_20130831_art007.pdf>

[4] See, Foreign Economic Relations Board (DEIK), Afganistan Ulke Bulteni, june 2011

په تېره لسيزه کې د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال، چې ترکيې کوم ارزښتناک رول لوبولی، هغه د پاکستان-افغانستان-ترکيې ترمنځ درې اړخيزې غونډې وې. دا درې اړخيزې غونډې له ۲۰۰۷ کال وروسته پيل شوې او هغه مهال افغانستان پر پاکستان تازه دا تورونه لګول، چې دوی افغان طالبانو ته پټنځايونه ورکوي او له هغه ځايه بيا په افغانستان کې عمليات ترسره کوي. پاکستان-افغانستان-ترکيې تر ۲۰۱۲ کال پورې اووه ځله درې اړخيزې ناستې درلودې (په ۲۰۰۷، ۲۰۰۸، ۲۰۰۹، دوه ځله په ۲۰۱۰، ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کال کې).

که څه هم دغو غونډو د پاکستان او افغانستان ترمنځ اوږدمهالې ستونزې هوارې نشوای کړای؛ خو تر يوه بريده يې دا ستونزې راکمې کړې. د بيلګې په ډول د ۲۰۰۹ کال په غونډه کې د لومړي ځل لپاره د دواړو هېوادونو نظامي او استخباراتي مشرانو له يو بل سره وکتل. د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر په غونډه کې درې واړه هېوادونه پر دې سلا شول، چې ګډ پوځي تمرينات به ترسره کوي، چې بيا په ۲۰۱۱ کال کې په ترکيه کې ترسره شول.

ترکيې د ۲۰۱۱ کال له نومبر څخه د افغانستان په اړه د اسيا پروسه يا "استانبول د افغانستان لپاره" پېل کړه. په دې غونډو کې هم د افغانستان ټول ګاونډيان برخه اخلي، چې موخه يې د افغانستان امنيت او ثبات دی. په دغو ناستو کې د افغانستان، پاکستان او ترکيې ولسمشران، د ايران مرستيال ولسمشر، د چين د ولسمشر استازی او د چين د بهرنيو چارو وزير او ځينې نور چارواکي رابلل کېږي.

هېره دې نه وي، چې د دې پروسې مهمه غونډه په راتلونکو ورځو کې (د اکتوبر په ۲۸مه) په چين کې جوړېږي. داسې انګېرنې شته دي، چې دا راروانه غونډه به د افغانستان پر راتلونکي ډېره اغېزه وښندي؛ افغانستان هم پوره ترتيبات ورته نيولې او همدارنګه پاکستان هم دې غونډې ته ډېر ارزښت ورکوي، چې له همدې امله پاکستاني سناتور، چې د پاکستان-چين انستيتوت مشر هم دی، د روانې ميلادي مياشتې اکتوبر په ۱۹ او ۲۰ د چين-پاکستان-افغانستان تر عنوان لاندې دوه ورځنی کنفرانس هم جوړ کړ.

## د ترکيې-افغانستان اړيکو راتلونکی

د ترکيې او افغانستان ترمنځ اړيکې تر ډېره پر کلتوري اړخ راڅرخي. ترکي شنونکي او چارواکي هم کله چې د دغو اړيکو په تړاو خبرې کوي، پيل يې له همدې کوي چې دواړه هېوادونه له کلتوري اړخه ډېر سره نږدې دي او ترکيه يو تاريخي

مسؤولیت لري، چې له افغانستان سره په سختو وختونو کې مرستې وکړي. د دوی په وینا، له دې ورهاخوا اسلامي کلتور او د ازبکانو او ترکمنانو شتون هم نور لاملونه دي، چې دا اړیکې یې پیاوړې کړې دي[5].

د ډېری شنونکو په اند، ترکیه به په راتلونکو کلونو کې هڅه وکړي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ همدا کلتوري اړیکې او اقتصادي برخه پیاوړې کړي. له همدې امله ترکیه غواړي، چې په افغانستان کې د مولانا جلال الدین رومي په نوم یو پوهنتون پرانېزي.

که څه هم ترکیه د منځنی ختیځ په مسائلو کې هم ښکېل ده او همغه لوري ته یې ډېر پام هم اړولی؛ مګر بیا هم د دغه هېواد له دیپلوماتیکو هلو ځلو څخه روښانه ده، چې د افغانستان په ثبات او امنیت ټینګولو کې هم ښه رول لوبول غواړي.

د ترکي چارواکو له هڅو ښکاري، چې دغه هېواد د افغانستان امنیت او ثبات ته ډېر ارزښت ورکوي؛ ځکه د افغانستان ثبات به نه یوازې دا چې سیمې ته ثبات راوړي، بلکې تر یوه بریده به د ترکیې امنیت هم خوندي کړي او په ټولیزه توګه به د سیمې او په تېره بیا د ترکیې لپاره نوې اقتصادي ګټې هم راوزیږوي.[6]

---

[5] Prof Dr Saban Kardas, Turkey's regional approach in Afghanistan: A civilian Power in Action, Center for Strategic Research (SAM) Republic of Turkey (Ministry of Foreign Affairs), Apr 2013, No.6. < http://sam.gov.tr/wp-content/uploads/2013/04/SAM_paper_ing_06_int.pdf>

[6] Simsek Ayhan, 'Turkey Pledges to Support Afghanistan beyond 2014', SES Turkiye, 12 July 2011.

## نخستین سفر یک رئیس جمهور ترکیه به افغانستان پس از ٥٦ سال



رجب طیب اردوغان رئیس‌جمهور ترکیه به تاریخ ۱۸ ماه روان میلادی در یک سفر یک روزه به کابل آمد. در بیش از پنج دهۀ گذشته، اردوغان نخستین رییس‌جمهور ترکیه است که به افغانستان سفر می‌کند و سفر یک رئیس‌جمهور ترکیه به افغانستان، پس از سال ۱۹۵۸ میلادی سابقه نداشته است. به همین دلیل و همچنان برنامه‌ای که برای سفر وی در نظر گرفته شده بود، این سفر بااهمیت خوانده شده است. از سوی دیگر پس از روی کار آمدن حکومت جدید در افغانستان نیز، اردوغان نخستین مقام بلندپایۀ خارجی بود که به کابل سفر کرد.

دلیل سرد شدن روابط میان افغانستان و ترکیه در دوران جنگ سرد، شاید این باشد که ترکیه در "بلاک سیتو" با پاکستان و غرب یکجا شد ولی افغانستان بی‌طرف ماند. اما در دوران جهاد افغانستان، ترک‌ها از افغان‌ها حمایت کردند و در جنگ‌های داخلی افغانستان نیز مداخله نکردند که در سال‌های اخیر، حامد کرزی رئیس‌جمهور پیشین افغانستان تا حدی روابط افغانستان و ترکیه را دوباره احیا کرد.

### اهمیت سفر اردوغان به کابل

در این سفر، آقای اردوغان توافقنامۀ استراتژیک میان دو کشور را با اشرف‌غنی احمدزی امضا کرد و با امضای این توافقنامه روابط میان این دو کشور، مستحکم‌تر خواهد شد.

کشور ترکیه از سال ۲۰۰۷ میلادی به این‌سو، به هدف کاهش تنش‌ها میان افغانستان و پاکستان، هفت بار نشست‌های سه جانبۀ سران کشورهای افغانستان، پاکستان و ترکیه را برگذار کرده است و به خاطر ارتباط حسنه با کشورهای همسایۀ

افغانستان و منطقه، در نشست‌های سه جانبه سهم فعال داشته است. همچنان کنفرانسی که قرار است به تاریخ ۲۸ ماه اکتوبر در چین برگذار شود، نیز از تلاش‌های ترکیه برای کاهش مشکلات میان افغانستان و پاکستان به شمار می‌رود.

از سوی دیگر، ترکیه از متحدان استراتژیک پاکستان در منطقه و یکی از کشورهای تأثیرگذار بر پاکستان شمرده می‌شود و به همین دلیل امیدواری‌های نیز وجود دارد که این کشور در کاهش مشکلات میان افغانستان و پاکستان و همچنان در تأمین صلح و ثبات در کشور، نقش سازنده و اثرگذاری را ایفا خواهد کرد. رئیس جمهور ترکیه در این سفر خود نیز گفت که او در راستای کاهش تنش‌ها میان افغانستان و پاکستان تلاش خواهد کرد.

بعضی از تحلیلگران بر این عقیده‌اند که سفر سرتاج عزیز مشاور امنیت ملی پاکستان، پس از سفر اردوغان به کابل و اظهارات وی در مورد بهتر ساختن روابط افغانستان با پاکستان نیز، یکی از تلاش‌های دیپلوماتیک ترکیه برای صلح و ثبات منطقه و بهتر ساختن روابط میان این دو کشور بود.

به طور کل گفته می‌توانیم که سفر رجب طیب اردوغان به کابل، از چند جهت حایز اهمیت بود. ترکیه با افغانستان ارتباط دیرینۀ سیاسی، اقتصادی، و فرهنگی داشته و این مشترکات تاریخی باعث روابط نزدیک دو کشور شده است. به دلیل همین مناسبات تاریخی و فرهنگی، نقش ترکیه در راستای صلح، ثبات و آرامش افغانستان نیز با اهمیت و برجسته است.

## صلح و اقتصاد

ترکیه اولین کشور اسلامی است که عضویت سازمان ناتو را دارد. هرچند سربازان این کشور در بیش از ده سال گذشته با سایر اعضای ناتو در افغانستان حضور داشتند؛ اما این کشور روابط متفاوتی نسبت به سایر اعضای ناتو با افغانستان دارد و سربازان این کشور در میدان‌های نبرد و در عملیات نظامی شرکت نداشتند. ازاین‌رو نیروهای ترک در افغانستان تلفات جنگی نیز نداشته‌اند.

طالبان مسلح نیز با نیروهای ترک برخورد متفاوتی داشته‌اند و چندین بار اتباع ترک را بر اساس "حسن نیت" رها کرده‌اند. از یک‌سو اگر ترکیه روابط عمیق اقتصادی، تجارتی و فرهنگی با افغانستان دارد، از سوی دیگر با طالبان مسلح نیز تاحدی تفاهم دارد و این گروه را، یک جریان جدا از شبکۀ القاعده می‌پندارد؛ بنابراین حامد کرزی هم ترکیه را برای ایجاد دفتر سیاسی طالبان مناسب می‌دانست، ولی بخاطر برخی دلایل دفتر طالبان در قطر گشایش یافت. اما به طور کل، سه کشور در سطح منطقه (سعودی، پاکستان و ترکیه) نقش میانجی میان حکومت افغانستان و مخالفین دولت ایفا کرده می‌توانند.

حکومت افغانستان و شهروندان افغان نیز به دو کشور (چین و ترکیه) به دیدهٔ قدر می‌نگرند. باآنکه چین در دوران جنگ سرد حمایت ماویست‌ها را در افغانستان می‌کرد و جنرالان لیبرال ترکیه نیز در دوران جنگ‌های داخلی افغانستان، حمایت جنرال دوستم را می‌کردند، اما این حمایت‌ها نیز در سطح بسیار پایین بوده و اکنون این کشورها به این حساسیت‌ها پی برده‌اند. بناء افغان‌ها به نقش مثبت این دو کشور امیدوار اند و منتظر نقش آن‌ها در رشد اقتصادی، سرمایه‌گذاری و روابط تجارتی می‌باشند.

از جانب دیگر، هرچند حکومت جدید افغانستان آزمند پیشرفت‌های اقتصادی در کشور است، اما در ارتباط به ترکیه بیشتر به تلاش‌های دیپلوماتیک این کشور برای تحکیم صلح و امنیت ارزش قایل خواهد شد، چون ترکیه کشور اسلامیِ است که به صلح در افغانستان علاقمند است و اگر از یک جهت روابط تاریخی با افغانستان دارد از جهت دیگر از چند دهه بدین‌سو روابط حسنه و استراتژیک با پاکستان نیز دارد. ترکیه در سال‌های گذشته نیز خواسته است تا با استفاده از همین روابط خود با پاکستان، میان کابل و اسلام‌آباد میانجی‌گری کند.

## افغانستان ته د سرتاج عزیز سفر او د اړیکو رغولو هڅې



د حامد کرزي د واکمنۍ په دوره کې کابل او اسلام اباد تر ډېره کړکېچنې اړیکې درلودې او افغان چارواکو تل پاکستان تورن کړی، چې دغه هېواد لاهم په افغانستان کې خپل ستراتېژیک عمق لټوي او غواړي چې د افغانستان بهرنۍ چارې تر خپل کنټرول لاندې وساتي. د دې ترڅنګ بیا دا تورونه خو په تېرو کلونو کې خورا زیات وو، چې پاکستان د افغان طالبانو ملاتړ کوي.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د تېرې لسیزې اړیکو ته پام سره، جوته ده چې د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ د شخړو د نورو بنسټیزو لاملونو ترڅنګ، یو هم د طالبانو د ملاتړ او په افغانستان کې د هند د فعال حضور موضوع ګڼل کېږي. افغان لوري روښانه کړې، چې پاکستان افغان طالبانو ته پټنځایونه ورکړي او همدا راز په افغانستان کې د هند پر ضد په پراکسي جګړه بوخت دی، چې د هند پر کونسلګریو د بریدونو تر شا د پاکستان د لاس لرلو تورونه یې یوه بېلګه بللی شو.

له بلې خوا له افغان حکومت سره د وسله والو طالبانو د خبرو اترو نه کولو په تړاو هم، د پاکستان رول ته ګوته نیول کېږي او دغه هېواد پر دې تورن دی، چې د سولې د افغاني بهیر پر وړاندې خنډونه جوړوي. په پاکستان کې د ملابرادر په څېر د افغان طالبانو د مشرانو نیول کېدل او وژل کېدل هغه څه دي، چې د افغانستان حکومت یې له وسله والو طالبانو سره د سولې په خبرو اترو کې د پاکستان منفي رول ګڼي.

## د پاکستان اندېښنې

پاکستان په افغانستان کې د هند د زیاتېدونکي رول په اړه اندېښمن دی او دا اندېښنې د پاکستاني چارواکو له څرګندونو جوتې دي. پاکستان په افغانستان کې د هند فعال حضور ته له څو اړخونو د شک په سترګه ګوري.

**لومړی:** هند به د افغانستان له لارې د پاکستان په داخلي چارو کې لاسوهنه وکړي، چې په دې اړه پاکستاني مطبوعات ډېری وختونه په بلوچستان او وزیرستان کې د ګډوډیو تر شا، د هند او افغانستان رول ته اشاره کوي.

**دویم:** د پاکستانیانو په اند، هند غواړي په افغانستان کې یو هند پلوی حکومت واکمن وي، ترڅو د پاکستان پر خلاف ستراتېژیک عمق ترلاسه کړي. خو د پاکستان دا اندېښنې تر ډېره بې ځایه دي؛ ځکه که څه هم هند د پاکستان په پرتله په افغانستان کې له اقتصادي پلوه رغنده رول لوبولی؛ خو بیا هم په افغانستان کې د پاکستان پر ضد د هند داسې کومه هڅه نه ترسترګو کېږي، چې پاکستان یې دې له امله اندېښمن شي. په ۲۰۱۱ کال کې حامد کرزي له پاکستاني شنونکي سلیم صافي سره په یوه مرکه کې ویلي وو: که چیرې هند پر پاکستان برید وکړي، نو موږ به د پاکستان د ولس تر شا ودرېږو. خو له دې پرته هم دا خبره باوري ده، چې د هند او پاکستان د ټکر پر مهال به افغانستان په دې منځ کې هېڅکله هم منفي رول ونه لوبوي.

**دریم:** هند غواړي، په منځنۍ آسیا کې پاکستان ته خنډ شي او د افغانستان په داخل کې هم پاکستان له تجارتي او اقتصادي ماتې سره مخ کړي. که د افغانستان-پاکستان ترمنځ دوه اړخیزې تجارتي اړیکې وڅېړو، نو جوته به شي چې د پاکستان په ګټه روانې دي. له ۲۰۰۰ کال څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې د دواړو هېوادونو ترمنځ شوې سوداګرۍ ته په پام سره، په ۲۰۰۰-۲۰۰۱ کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ مجموعي تجارت ۱۷۰ میلیون ډالره و، خو په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کال کې بیا ۱۲۳٦میلیون ډالره شو او په دې ټول پړاو (۲۰۰۰-۲۰۰۸ کلونو) کې ټول مجموعي تجارت ۵ میلیارده او ۲۱٦ میلیون ډالره و، چې له دې جملې څخه ۴۸۲۸ میلیون ډالره یوازې د پاکستان صادرات وو!

د یوې بلې احصائیې له مخې افغانستان له پاکستان څخه یوازې په ۲۰۱۲ کال کې کابو دوه ملیارده ډالره په ارزښت توکي وارد کړي؛ مګر بالعکس له هند څخه بیا یوازې ۲۱۲ میلیون ډالره توکي وارد شوي دي.

## په افغانستان کې د هند او پاکستان روانه لوبه

که څه هم د حامد کرزي د واکمنۍ په وروستۍ لسیزه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې ترینګلې وې؛ خو په افغانستان کې د نوي حکومت او د اشرف غني له ولسمشر کېدو سره له (لر ګ) څخه یوه خبرپاڼه خپره شوه چې پکې ویل شوي وو: "ښه فرصت دی چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې د ښې کېدلو په لور ولاړې شي."

بلخوا پاکستان هم له دې نوي بدلون څخه ګټه پورته کول وغوښتل او اشرف غني احمدزي ته يې د ولسمشرۍ مبارکي ورکړه او سرتاج عزيز يې کابل ته د يوه سفر له بلنليک سره راولېږه. که څه هم د دې کتنې ډېر جزئيات نه دي روښانه شوي؛ خو ويل کېږي چې دواړه لوري په دې سلا شوي، چې د دواړو هېوادونو د جګپوړو چارواکو ترمنځ به د غونډو لړۍ نه درووي. د دې ترڅنګ اشرف غني له سرتاج عزيز سره په کتنه کې ويلي، چې د تورونو دا روانه لړۍ به درووي او له بيانونو او کتنو څخه به د عمل ډګر ته وځي. همدا راز سرتاج عزيز هم ويلي، چې په افغانستان کې د نوي حکومت جوړېدل د امنيت د ټينګښت لپاره ښه چانس دی او دوی له افغانستان سره ښې اړيکې غواړي.

که څه هم دغه سفر تشريفاتي بڼه درلوده، خو بيا هم دا سفر د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو د ښه کولو يو نوی فرصت و، چې دواړه هېوادونه به ترې ګټه پورته کول وغواړي. په اوسني وخت کې نه د اسلام آباد په ګټه ده، چې د خپلې بې ځايه هيلې (ستراتېژيک عمق) او هند په تړاو اندېښنې ولري او نه هم د کابل په ګټه ده –که چېرې د پاکستان نيوکې پر ځای وي– چې هند ته په کندهار او جلال اباد کې د پاکستان خلاف پراکسي جګړې فرصت ورکړي.

دا چې هند په افغانستان کې اوس تر يوه بريده ښه نوم لري، دا نوم يې د تشو تبليغاتو له لارې نه دی ګټلی؛ بلکې د پانګونو، پروژو او نورو اقتصادي فعاليتونو او همکاريو له لارې ګټلی او په دې توګه يې په افغانستان کې نرم ځواک لوړ شوی دی. خو افغان حکومت ته د پرمختګ او بريالۍ ډيپلوماسۍ لپاره اړينه ده، چې د دواړو (هند او پاکستان) ترمنځ توازن وساتي.

په افغانستان کې عام نظر دا دی، چې اسلام اباد لاهم د افغانستان په تړاو مذبذبه تګلاره لري. که له يوې خوا په افغانستان کې د امنيت، سولې او ثبات خبرې کوي؛ خو له بلې خوا په روانو ناامنيو کې د دوی رول هم څرګند دی. ځکه نو پاکستان بايد پوه شي، چې هند او افغانستان ان د پاکستان له جوړېدو مخکې زرګونه کلونه پخوانۍ اړيکې لري او د دغو اړيکو پر خلاف روانه لوبه يې بې ګټې ده. همدا راز هند هم بايد په پام کې ولري، چې د افغان دولت وسله وال مخالفين د افغانستان د خلکو برخه ده او له هغوی سره له خبرو کولو پرته، د افغانستان پرمختګ او ربښتينې سوله ناشونې ده. پای

**ارتباط با ما:**

ايميل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (93+)